# د افغانستان اسلامي امارت
# لوړو زده کړو وزارت
# شیخ زاید پوهنتون
# ژورنالیزم او عامه اړیکو پوهنځي

Communication & Journalism
Shaikh Zayed University

## د ژورنالیزم څانګي کتلاک

۱۴۰۳

Islamic Emirate of Afghanistan
Minitsry of Higher Education
Khost Shaikh Zayad University
Communication and Journalism faculty

Communication & Journalism
Shaikh Zayed University

# Journalism faculty
catalog

۱۴۰۳

# لړلیک


| گڼه | سرلیک | | مخګڼه |
|---|---|---|---|
| ۱ | سریزه | | ۲ |
| ۲ | د ژورنالېزم ځانګې لړلید | | ۲ |
| ۳ | ماموریت | | ۲ |
| ۴ | موخې | | ۲ |
| ۵ | مخینه | | ۳ |
| ٦ | توامیتونه | | ۳ |
| ۷ | تضمین کیفیت | | ۳ |
| ۸ | فیسبوک پاڼه | | ۴ |
| ۹ | کتابتون | | ۴ |
| ۱۰ | توامیتونه | | ۴ |
| ۱۱ | شیخ زاید راډیو | | ۵ |
| ۱۲ | کمپیوټر لب | | ۵ |
| ۱۳ | ویب پاڼه | | ۵ |
| ۱۴ | مهالنی | | ۵ |
| ۱۵ | د تحصیلي دورې بشپړیدو وخت | | ٦ |
| ۱٦ | د دومداره پرمختیا په موخه د ځانګې اړتیاوې | | ٦ |
| ۱۷ | د دومداره پرمختیا په موخه د ځانګې اړتیاوې | | ٦ |
| ۱۸ | پوهه | | ٦ |
| ۱۹ | مهارتونه | | ٦ |
| ۲۰ | وړتیا | | ۷ |
| ۲۱ | د استادانو بیوګرافي | | ۸ |
| ۲۲ | د ژورنالېزم ځانګې درسي کریکولم | | ۱۱ |

## سریزه

د شیخ زاید پوهنتون د ارتباطاتو او ژورنالیزم پوهنځي (ژورنالیزم څانګه)، چې د یاد پوهنځي د دیپارتمنت په صفت یوه فارغ ده څانګه ده تر دا مهاله یې د وخت د غوښتنو او مارکېټ مطابق ټولنې ته په اسلامي او ملي روحیه سمبال ګڼ شمېر ځوانان د خدمت په موخه وړاندې کړې دي، له یادې څانګې نه ځینې فارغ شوي ځوان په ملي او بین المللي کچه له داخلي او بهرنیو رسنیو سره په کاربوخت دي، پردې سربېره له دې څانګې څخه ډېر ځوانان د هېواد په بېلابېلو پوهنتونونو؛ لکه: کابل، کندهار، پکتیا، ورردګ او... د علمي کادرونو په صفت جذب شوي دي.

## د ژورنالیزم څانګې لرلید (Vision)

ژورنالیزم څانګه غواړي، د هېواد او سیمې په کچه، د معیاري زده کړو، رسنیزو مطالعاتو او علمي څېړنو په برخه کې مخکښه علمي برنامه شي.

## مأموریت (Mission)

ژورنالیزم څانګه، د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې، په ملي او نړۍواله کچه محصلانو ته د معیاري زده‌کړو او مسلکي مهارتونو د ودې زمینه برابروي؛ څو د ټولنې او کاري مارکېټ غوښتنو او اړتیاوو ته په کتو، د رسنیز چوپړ په موخه، مسلکي او ژمن کادرونه ټولنې ته وړاندې کړي.

## د ژورنالیزم څانګې موخې (Program Objectives)

د هرې بریا لوی لامل، د دقیقو او ځانګړو موخو ټاکل دي. په ورځنې ژوند کې، موخې فردي او اداري تګلاره روښانه کوي. د موخو ټاکنه، په راتلونکې پورې اړه لري، چې هر بنسټ/اداره، هغو ته د رسېدو لپاره هڅې کوي.

۱- د ژورنالیزم په مسلکي زده‌کړو کې، دیني، ملي، کلتوري او... ارزښتونو ته پاملرنه
۲- د اسلام او نافذه قوانینو په رڼا کې، د بیان آزادۍ پولې معلومول او د لوېدیځوالو له آزادیو توپیرول
۳- د ژورنالیزم په علمي او تخصصي زده‌کړو کې، په ځان بساینه
٤- نړیوالو معیارونو ته په کتو، له نظري او عملي اړخه د زده‌کړو کیفیت لوړونه او پراختیا
۵- په اسلامي، ټولنیزو او کلتوري ارزښتونو سمبال، ژمن او وړ کادرونه ټولنې ته وړاندې کول
٦- د ټولنې د اړتیا له مخې، ګټورو علمي او رسنیزو څېړنو ته زمینه برابرول
۷- له داخلي او نړیوالو اکاډمیکو بنسټونو سره، د دوامداره علمي همکارۍ/تواُمیتونه لرل
۸- د ټولنې په پرمختګ کې ونډه اخیستنه
۹- په کاري مارکېټ کې، د ځای موندنې په پار، د فارغانو وړتیاوې او مهارتونه لوړول
۱۰- د ژورنالیزم څانګې د پرمختګ لپاره د داخلي او نړیوالو بنسټونو ملاتړ تر لاسه کول
۱۱- له کمي او کیفي اړخه، له نړیوالو معیارونو سره سم، د ژورنالیزم زده‌کړو وده او پراختیا
۱۲- په ټولنه کې د فعالو خپرنیزو مراکزو د ښه والي په موخه، د ژورنالیزم څانګو رسنیزو کړنو مراکزو ایجاد او پراختیا
۱۳- د ژورنالیزم په څانګه کې، د ماسترۍ زده‌کړو برنامې پیلول
١٤- له تخنیکي اړخه، د سټوډیو ګانو ایجاد، تجهیز، ترمیم او پراختیا په موخه، له پوهنتون او نورو ملاتړو ادارو بودجه ترلاسه کول
۱۵- له مالي اړخه، په ځان بساینه
۱٦- د کادري غړو د تخصصي پوهې او علمي درجو لوړونې په پار، ماسترۍ او دوکتورا زده‌کړو زمینه برابرول
۱۷- د درسي کتابونو د تالیف او ترجمې په موخه د کادري غړو ظرفیت لوړونه
۱۸- د رسنیزو علومو د ښه والي او بډاینې په موخه د کادري غړو او محصلانو د ډله ییزو څېړنو ملاتړ
۱۹- د نړۍ په کچه علمي بدلون او کاري مارکېټ اړتیاوو ته په کتو درسي نصاب معیاري کول
۲۰- له کاري ونډه‌والو سره د نصاب ښه والي او کاري فرصتونو رامنځته کولو په پار مناسبې اړیکې او همغږي.

## مخینه

ژورنالېزم څانگه ډېره اوږده مخینه نه لري؛ ځکه د شیخ زاید پوهنتون، ژورنالېزم پوهنځي هم په لومړیو کې د ښوونې او روزنې پوهنځي تر چتر لاندې د دیپارتمنټ په بڼه فعالیت کاوه. په ۱۳۹۰ هـ ش کال یې د ځانگړي پوهنځي موقف ترلاسه کړ. څه موده ژورنالېزم عمومي ؤ؛ کومې ځانگړې څانگې یې نه درلودې؛ خو په لنډ وخت کې د زده کړو تخصصي کېدو په موخه د مطبوعاتو او راډیو تلویزیون په نومونو دوې ځانگړې څانگې پکې رامنځته شوې.

په وروستیو کې د هرات، ننگرهار، شیخ زاید او مزار پوهنتونونو، ژورنالېزم پوهنځیو سره توآمیتونه لري، د همدې دوه اړخیزو مرستو په لړ کې له لوړو زده کړو وزارت سره په همغږی، د یادو پوهنتونونو، ژورنالېزم پوهنځیو د استادانو په هڅه د هېواد په کچه د ژورنالېزم پوهنځیو کریکولم متحد شو.

د نوي متحد شوي کریکولم له مخې د وخت د غوښتنو او په علمي ساحه کې پرمختگونو ته په پام، د ۱۳۹۵ کال په لومړیو کې په پوهنځي کې بنسټيز تغییرات رامنځته شول؛ (مطبوعات او راډیو تلویزون) څانگې د ژورنالېزم ډیپارټمنټ تر نامه لاندې مدغم شوې او تر څنگ یې د عامه اړیکو په نامه نوې څانگه هم رامنځته شوه او له دې سره سم د پوهنځي نوم هم بدل شو، چې اوس د ارتباطاتو او ژورنالیزم پوهنځي تر نامه لاندې یادې څانگې خپلې چارې پرمخ وړي.

ژورنالېزم څانگه د محصلانو د عملي روزنې لپاره د شیخ زاید  په نوم راډیو لري، چې محصلان په کې تجربوي او تربیوي خپرونې جوړوي. یاده څانگه اوسمهال ٦ علمي کادرونه لري، چې په علمي او عملي زده کړو سمبال ځوان کادرونه ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کوي. د یادې څانگې فارغان د افغانستان په مختلفو ملي او خصوصي رسنیو کې کار کوي. د دې ترڅنگ د هېواد د بېلابېلو پوهنتونونو، د ارتباطاتو او ژورنالېزم پوهنځیو، ژورنالېزم څانگو کې د د رسمي او قرادادي استادانو په توگه دندې پرمخ وړي او همدرانگه په نړۍ‌والو رسنیو کې د ژورنالېستانو په توگه دندې لري.

## توامیتونه

د ارتباطاتو او ژورنالیزم پوهنځي دا مهال د هرات، بلخ، البیروني، ننگرهار، کندهار او پکتیا پوهنتونونو د ارتباطاتو اوژورنالیزم پوهنځیو سره د همکارۍ تفاهم نامې لري.

## تضمین کیفیت

د ژورنالیزم څانگې په اداري جوړښت کې د (تضمین کیفیت فرعي کمېټې) په نوم یوه پروسه روانه ده، یاده پروسه هڅه کوي، چې د څانگې په کچه علمي برنامې چټکې او د ستراتیژیک پلان له تطبیق څخه څارنه وکړي، د غه څانگه د پوهنځي د ریاست له لارې د شیخ زاید پوهنتون د (تضمین کیفیت) عمومي کمېټې ته د خپلو کړنو میاشتني گزارش ورکوي.



**فېسبوک پاڼه:** یاد پوهنځی فعاله فېسبوک پاڼه هم لري، چې د پوهنځي اړوند علمي، کلتوري او... ورځني فعالیتونه، خبرتیاوې، پرمختګونه او مسلکي برخه کې د عامه پوهاوي په پار بېلابېل مسایل خپروي.

**کتابتون:** ژورنالېزم او عامه اړیکو پوهنځی، د وخت غوښتنو او اړتیاوو ته په کتو، په ارزښتمنو کتابونو نسبتاً سمبال کتابتون لري. یاد کتابتون ته مسؤل شخص ګمارل شوی او د مطالعې لپاره په نسبي ډول مناسب ځای لري. همدارنګه استادان او محصلان کولی شي، د کتابتون له مسؤل سره په تفاهم، له ثبت او راجستر وروسته، کتابونه له ځان سره د مطالعې لپاره هم یوسي.

**توامیتونه:** د شیخ زاید پوهنتون، ژورنالېزم او عامه اړیکو پوهنځي له ۲۰۱۳ کاله تر ۲۰۱٤ پورې، د امریکا له Ball State پوهنتون سره توأمیت درلود، چې استادانو د لنډمهالو علمي کورسونو او ورکشاپونو اخیستنې په موخه د یاد پروګرام له لارې دبۍ، مالیزیا، امریکا، هند، او ترکیې هېوادونو ته علمي سفرونه وکړل او د دوی د ظرفیت لوړنې لپاره یې ښه زمینه برابره کړې وه. د دې تر څنګ یاد پوهنځي له اطلاعاتو او کلتور ریاست، بېلابېلو پوهنتونونو ژورنالېزم پوهنځیو، سیمه ییزو رسنیو او... ادارو سره د دوه اړخیزه علمي او مسلکي همکارۍ په پار هوکړه لیکونه لري؛ څو د تحصیل پر مهال او له فراغت وروسته د محصلانو لپاره د عملي زده کړو په پار د انټرنشپ پروګرامونو زمینه برابره کړي؛ له بل پلوه به د یاد پوهنځي کادري غړي وخت نا وخت له کاري شرکاوو سره د علمي سیمنارونو او کنفرانسونو په ښه خپلې علمي تجربې او څېړنیزې پایلې شریکوي. په وروستیو کې یاد پوهنځي د پوهنتون له رهبري او لوړو زده کړو وزارت علمي چارو معینیت سره په همغږۍ، د متواترو هڅو په پایله کې له ډویچه ویله اکاډمي سره د علمي همکارۍ آزمایشي دورې پیلېدو ته لاره هواره کړې ده.








**شیخ زاید راډیو:** ژورنالېزم او عامه اړیکو پوهنځی، د عملي ژورنالېزم په برخه کې د محصلانو روزنې لپاره، د ځوان غږ په نوم راډیو هم لري، چې په ۱۳۹۰ کال کې رسمي جواز ورته اخیستل شوی او محصلان پکې تجربوي او تربیوي خپروني پر مخ وړي. په وروستیو کې، د پوهنتون د رهبرۍ په غوښتنه او پوهنځي د خپلمنځي تفاهم له مخې، د یادې راډیو نوم بدل شو، چې فعلا د شیخ زاید راډیو په نامه یادېږي. په دې راډیو کې فعلا محصلان یوازې د خپرونو تولیدي برخه پر مخ وړي او د منظم برق د نشتوالي له امله ژوندي نشرات نه لري.

**کمپیوټر لېب:** ژورنالېزم او عامه اړیکو پوهنځی نسبتاً مجهز کمپیوټر لېب لري. محصلان د لومړنیو کمپیوټري زده کړو او تخصصي پروګرامونو لکه SPSS، Adobe Premier، Adobe Audition او... د عملي زده کړې په موخه روزمره ګټه ترې اخلي. خو د یاد کمپیوټرلېب اوسنی ځای مناسب نه دی؛ د پوهنځی رهبري هڅه کوي، چې مناسب ځای ورته برابر کړي؛ څو د محصلانو Soft Skills لوړولو او مسلکي پرمختیا په موخه له شته امکاناتو اعظمي ګټه واخلي.

**وېبپاڼه:** د شیخ زاید پوهنتون په وېب سایټ کې، ژورنالېزم او عامه اړیکو پوهنځی هم خپله وېبپاڼه لري، چې د پوهنځي او کادري غړو اړوند معلومات پکې خپاره شوي دي. همدارنګه یاد پوهنځی په پام کې لري، چې د علمي، اداري او څېړنیزو چارو، محصلانو پروژو او نورو اړوندو معلوماتو د خپراوي لپاره ځانګړی وېب سایټ جوړ کړي.

**مهالنۍ:** ژورنالېزم او عامه اړیکو پوهنځی، د چاپي رسنیو په برخه کې د عملي ژورنالېزم تمرین په پار د محصلانو روزنې په موخه په پام کې لري، چې یوه مهالنۍ هم پر مخ یوسي. اوس مهال هم د یاد پوهنځي محصلان د شیخ زاید په نامه مطبوعاتي خپرونې لري، چې سمپلونه یې په کتابتون کې موجود دي.





**د تحصیلي دورې بشپړېدو وخت:**

د ژورنالېزم څانګې تحصیلي دوره په څلورو کلونو کې بشپړېږي. په هر کال کې محصلان دوه سمسترونه اخلي، چې ټولټال آته سمسترونه د څلورو تحصیلي کلونو په موده کې بشپړېږي.

**د دوامداره پرمختیا په موخه د څانګې اړتیاوې:**

ژورنالېزم څانګه د خپلو علمي او اداري فعالیتونو د ښه ترسره کېدو په موخه لاندې خدماتو او توکو ته اړتیا لري.

• ژورنالېزم او عامه پوهنځی په موقتي ډول د شرعیاتو پوهنځي اړوند تعمیر ته را انتقال شوی او څانګې تعمیر نه لري. نو ژورنالېزم څانګه د تدریسي او اداري خونو له جدي کمښت سره مخ ده.

• ژورنالېزم څانګه د کتابتون جوړولو لپاره مناسب ځای او کافي اندازه کتابونه نه لري.

• یاده څانګه د لویو غونډو لپاره تالار ته جدي اړتیا لري.

• ژورنالېزم څانګه د شیخ زاید  په نوم راډیو لري، دي. خو د یو لړ تخنیکي ستونزو لکه د دوامداره / سولري برښنا او تخنیکي پرسونل نه شتون، چې له وجې یې موږ لا پرېباندې قادرشوي نه یو، چې نشرات پیل کړو.

• یاده څانګه اړتیا لري، چې د راډیویي سټوډیو تر څنګ، تلویزیوني سټوډیو، مطبعه او انلاین خپرونو لپاره منظم کمپیوټر لب او انټرنټ په واک کې ولري.

• ژورنالېزم څانګه د اداري کارونو د پر مخ وړنې لپاره یو اداري کارکوونکي ته جدي اړتیا لري.

**د دوامداره پرمختیا په موخه د څانګې اړتیاوې:**

د شیخ زاید پوهنتو، هرات، بلخ او ننګرهار پوهنتونونو، ژورنالېزم او عامه اړیکو پوهنځیو د امریکا له پوهنتون لکه بال سټېټ پوهنتون سره توأمیتونه ، لرل او د همدې برنامې په لړ کې، د ژورنالېزم پوهنځیو اړوند کریکولم په ۱۳۹۲ کال کې له سره وکتل شو او بشپړې ارزونې وروسته د افغانستان په کچه یو متحد کریکولم د ژورنالېزم پوهنځیو ته په واک کې ورکړل شو. یاد کریکولم اقتصادي او سیاسي ګرایشونو برابر شوی دی. د ټولنې اړتیاوې او د کاري مارکېټ غوښتنې په پام کې نیول شوي. ژورنالېزم څانګه، د همدې کریکولم له مخې، په څلورکلنه تحصیلي دوره کې، محصلانو ته د نظري زده کړو تر څنګ په علمي ژورنالېزم کې هم روزنه ورکول کېږي، چې له فراغت وروسته، د دې جوګه وي، څو له بېلابېلو رسنیزو سره د مسلکي ژورنالېستانو په توګه کار وکړي. د دې تر څنګ له یادې څانګې فارغ شوي ځوان کادرونه، د بېلابېلو ادارو د مطبوعاتي مسؤلینو په توګه هم د دندې ترسره کولو ښې وړتیاوې لري. له ژورنالېزم څانګې لسګونه فارغ شوي ځوان کادرونه په بېلابېلو پوهنتونونو کې، د کادري غړو په توګه جذب شوي دي. په دې سربېره ګڼ شمېر فارغ شوي کادرونه مو له سیمه ییزو، ملي او نړیوالو رسنیو سره په مسلکي همکارۍ بوخت دي. خېنې یې په بېلابېلو ادارو کې د مطبوعاتي مسؤلینو په توګه دندې ترسره کوي. د ټیلیفوني اړیکو، ټولنیزو رسنیو او ډله ییزو رسنیو له لارې تر لاسه شویو معلوماتو له مخې، په ټوله کې زموږ فارغ شوي ځوان کادرونه په ټولنه کې د خدمت پر مهال ښې لاسته راوړنې لري او په خپلو ادارو کې له ویاړه ډکې کارنامې لري.

**پوهه:**

د ژورنالېزم څانګې محصلان د ژورنالېزم په اساساتو سربېره، د راډیو، تلویزیون، چاپي او انلاین رسنیو لپاره د خبر او رپوټ لیکنې په برخه کې نظري او عملي زده کړې کوي. همدارنګه د مرکې، ګردي مېز، ډرامې په برخه کې هم نظري او عملي روزنه ورکول کېږي. په دې سربېره د انځوریز ژورنالېزم، پر لیکه ژورنالېزم، څو رسنیز رپوټ، پلټونکي خبریالی، تحلیلي ژورنالېزم، Documentary او داسې نورو مسلکي برخو کې په نظري او عملي بڼه روزل کېږي. همدارنګه د رسنیو مدیریت برخه کې هم نظري او عملي زده کړې ورکول کېږي. د فراغت په موخه، د مونوګراف پر ځای هم عملي پروژې ورکول کېږي؛ څو د عملي ژورنالېزم په برخه کې د محصلانو وړتیاوې لوړې شي. پاتې دې نه وي، چې له بېلابېلو رسنیزو ادارو سره فارغېدونکو محصلانو ته د انټرنشپ لپاره لاره هوارېږي؛ څو دوی عملي کار وکړي او له فراغت وروسته د ژورنالېزم عملي ډګر کې له کار کولو سره ډېرې ستونزې ونه لري.

**مهارتونه:**

د ژورنالېزم څانګې فارغېدونکو ځوانو کادرونو ته د مسلک اړوند کمپیوټري پروګرامونو برخه کې عملي روزنه ورکول کېږي. لکه د Adobe Audition, Adobe Premier او... پروګرامونه ورته تدریسېږي؛ څو له فراغت وروسته د یادو مهارتونو پر بنیاد په دندو د ګمارل کېدو چانس تر لاسه کړي. په دې سربېره د محصلانو د عملي او مسلکي وړتیاوو لوړونې په موخه لنډمهالي روزنیز ورکشاپونه جوړېږي؛ څو محصلانو ته هغه مهارتونه وښودل، چې په کاري مارکېټ کې د ځان لپاره په آسانۍ ځای ومونډلی شي. د بېلګې په توګه د ویاندویۍ، ژباړې، CV جوړولو، کاري انټرویو، انګلیسي ژبې زده کړې، څېړنې، پرېزېنټېشن ورکولو او... برخو کې د محصلانو وړتیاوو لوړولو په موخه دومدار پروګرامونه برابرېږي.



**وړتیا:**

د ژورنالېزم څانګې ډېرى علمي کادر غړي د ماسټرۍ تر کچې لوړې زده کړې لري او يو تن پوهنمل دوکتور احمد جاوید شکیب له چین هېواد د دوکتورا سند لري، چې علمي درجه او مسلکي تجربې يې د محصلانو په ښه روزنه او وړتیاوو لوړونه باندې مستقیم اغېز ښندي. یاده څانګه لا هم هڅې کوي، څو د عملي کادر غړي د بهرنیو هېوادونو پوهنتونونو ته د دوکتورا زده کړو بشپړولو په موخه معرفي کړي؛ څو د علمي کادر غړو ظرفیت نور هم لوړ شي او په لېسانس سربېره د ماسټرۍ په کچه د زده کړو برنامه هم ولرو. په همدې موخه د ژورنالیزم څانګې يو تن کادري غړی پوهنل احمد صیاء الهام په چین هېواد د دوکتورا په کچه تازه یاد تللی دی . نور استادان هم په دې هڅه کې دي، څو دوکتورا زده کړو ته د شاملېدو چانس تر لاسه کړي. همدرانګه د محصلانو د وړتیاوو لوړونې په موخه په پوهنځي کې د د شیخ زاید په نوم راډیو شته، چې د دوی د عملي زده کړو لپاره یوه غوره سرچینه بلل کېدای شي. د دې تر څنګ له اطلاعاتو او کلتور ریاست او نورو سیمه ییزو رسنیو سره دوه اړخیز تفاهم لیکونه شوي؛ څو د یادې څانګې محصلانو ته د عملي زده کړو زمینه برابره کړي او د وړتیاوو لوړونې لپاره یې لاره هواره کړي. د یادونې ده، چې محصلان د انګلیسي او کمپیوټر زده کړو او مهارتونو لوړونې په موخه د شیخ زاید پوهنتون په داخل کې د انګلیسي او کمپیوتر زده کړو مرکز ته ور پېژندل شوي، څو د انګلیسي ژبې او کمپیوټر په برخه کې خپل مهارتونه لوړ او کاري فرصتونو ته ځانونه په شرایطو برابر کړي. په دې سربېره محصلان وخت نا وخت لنډمهالو ورکشاپونو ته معرفي کېږي؛ څو یې وړتیاوې لوړې شي.

د یادونې وړده، چې تېرکال د کب / حوت په میاشت کې د افغانستان د اسلامي امارت د د لوړو زده کړو محترم وزارت د مشرتابه په خاصه توجه، وخت او شرایطو ته په کتو سره د ټول افغانستان د ژورنالیزم پوهنځیو رییسانو او د څانګو د آمرینو په ګډون په یاد وزارت کې د نصاب کلستر دایر شو، چې په ترڅ کې یې په پخواني کریکولم له سره نظر شو، چې په ترڅ کې د ژورنالیزم ټول پوهنځي د (ارتباطاتو او ژورنالیزم) په نوم ونومول شول او همدارنګه يو واحد نوی کریکولم یې ترتیب کړ، په دې هیله، چې یاد کریکلولم ژر تر ژره د لوړو زده کړو جلیله وزارت لخوا رسماً د پوهنتون په اختیارکې ورکړل شي او د استفادې وړ وګرځي.



پوهنمل دوکتور احمدجاوید شکیب



پوهنمل احمد ضیاء



پوهنمل عزیزالله صدیق



پوهندوی نقیب الله عطیش



پوهنیار اسماعیل عاطف



پوهنیار هلال ارشاد



## الهام لنډه بیوگرافي

پوهنمل احمدضیاء الهام ۱۳٦٦ کې د وردگو، چک ولسوالۍ، کاکاخېلو کې زېږېدلی دی. ۱۳۸٤ کې، له حضرت عمرالفاروق رض عالي لېسې فارغ شو. له شیخ زاید پوهنتون یې په ۱۳۸۸ کې، د ژورنالیزم څانگه کې لېسانس وکړ. له فراغت وروسته یې کابو یو کال له ناور مشورتي مرکز سره، له انگلیسي ژبې، پښتو ته ژباړه وکړه. د هغې تر څنگ یې لنډه موده له پوهنې وزارت سره رسمي مأموریت هم درلود. د ۱۳۹۰ کال لومړیو کې یې د بي بي سي راډیو، تعلیمي خپرونو (BBC-AEP) کې د لیکوال او پروډیوسر په توگه دنده پیل کړه. د ۱۳۹۱سنبلې په ۱۱ نېټه یې له یادې دندې استعفاء وکړه او د شیخ زاید پوهنتون، ژورنالېزم پوهنځي کې، د استاد په توگه وگمارل شو، چې تر اوسه د یادې اکاډمیکې ادارې کادري غړی دی. په مسلکي برخه کې یې د پلټونکې خبریالي تر سرلیک لاندې کتاب ولیکه، چې په ۲۰۱۷ کې چاپ شو او د ژورنالېزم څانگه کې د ممد درسي اثر په بڼه گټه ترې اخیستل کېږي. په وروستیو کې یې د (راډیویي فیچر) تر سرلیک لاندې بل مسلکي کتاب هم بشپړ کړی، چې تر اوسه د چاپ په گاڼه نه دی سمبال شوی. په دې سربېره یې، ادبي برخه کې هم دوه شعري ټولگې، یو ناول او لنډې کیسې پنځولې، چې له چاپ پاتې دي. په ۲۰۱۳ او ۲۰۱٤ کلونو کې یې، د مسلکي ظرفیت لوړونې په پار، هند، امریکا او ترکیې ته لنډمهالو روزنیزو برنامو کې په موخه سفرونه کړي دي. د ۲۰۲۰ کال جون کې یې، د چین هېواد Communication University of China کې، د International Journalism برخه وکړه او د ماسټرۍ تېزېس یې د The NYT and China Daily's Coverage of the US' War and Peace in Afghanistan تر سرلیک لاندې ولیکه. اوس مهال د چین هېواد Hangzhou ښار Zhejiang University کې د Journalism and Communication برخه کې دوکتورا زده کړې کوي.



## هلال ارشاد

پوهنیار هلال ارشاد د ولي بادشاه زوی په کال ۱۳٦۸ هجري لمریز کې د خوست ولایت اسمعیل خیلو او مندوزیو ولسوالۍ ډډوالو کلي په یوه روشنفکره کورنۍ کې نړۍ ته سترگې پرانیستې، لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې د مرحوم بسم الله حقمل منځنی ښوونځي کې تر سره کړې او په ۱۳۸٦ کال کې یې د یادې سیمې له څربن عالي لیسې څخه په ښه درجه فارغ او په ۱۳۸۷ کال کې د کانکور ازموینې له لارې د شیخ زاید پوهنتون ژورنالیزم پوهنځي ته لار پیدا کړه، چې په ۱۳۹۰ کې یې د همدې پوهنځي د عمومي څانگې څخه د لیسانس سند ترلاسه کړ.

نوموړی د دریم صنف محصل و چې په غږیزو او تصویري رسنیو کې یې د خبریال په توگه دندې اجرا کړې، چې د هغې له جملې د سپوږمۍ راډیو او صبا تلویزیون نومونه یادولی شو. هلال ارشاد په ۱۳۹۳ کال کې د ځانگړي شوق او علاقې له مخې د شیخ زاید پوهنتون د ژورنالیزم او عامه اړیکو پوهنځي د ژورنالیزم څانگې د کادري غړي په صفت مقرر شو، د دندې په اوږدو کې یې د پوهنځي اړوند بېلابېل مسوولیتونه هم ترسره کړي دي، د تحقیق فرعي کمېټې مسؤل، د کتابتون مسؤل، د علمي شورا منشي او د پوهنځي له خوا نور ورسپارل شوي مسوولیتونه یې هم په ښه شان تر سره کړي دي. دا مهال د ژورنالیزم څانگې د استاد او تحقیق فرعي کمېټې د مسؤل په صفت دنده ترسره کوي. ارشاد صیب په ۱٤۰۲ کال د قزاقستان هیواد د الفارابي نړیوال پوهنتون د ژورنالیزم پوهنځي څخه د ماسترۍ سند هم ترلاسه کړ، استاد د دندې په اوږدو کې په گڼشمېر کورنیو او بهرنیو علمي سمینارونو او وروکشاپونو کې گډون کړی دی.



## احمد جاوید شکیب

محترم دوکتور پوهنمل احمد جاوید شکیب د حضرت علي زوی په (۱۳٦۳هـ ل) کال کې د غزني ولایت د مقُر ولسوالۍ مُقر کې زیږېدلای دی لومړنۍ زده کړې یې د پېښور په تقوي ښوونځي کې کړې دي او لیسانس یې د شیخ زاید پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي له ژورنالیزم څانګې څخه ترلاسه کړ، چې په تعقیب یې په یاده څانګه کې د علمي کادر په توګه ومنل شو.
استاد په کال ۱۳۹۳ کې د جاپان هېواد له (دوشیشا) پوهنتون څخه د نړۍ والو مطالعاتو په برخه کې ماسترۍ سند ترلاسه او بېرته افغانستان ته راستون شو، چې د تدریس ترڅنګه یې د پورتني پوهنتون د محصلانو معاونیت دروند مسوولیت قبول او په ښه توګه یې ترسره کړ په تعقیب یې په کال (۱٤۰۲) کې د چین له (شانګهای) پوهنتون څخه د دوکتورا ترلاسه کړ، نوموری استاد دا مهال د ژورنالیزم په څانګه پرتدریس سربېره د ذکر شوي پوهنتون د تحقیق او ریسرچ معاونیت هم پرغاړه لري.



## عزیز الله صدیق

پوهنمل عزیزالله صدیق د مرحوم ډګروال جمعه خان زوی په کال۱۳۵۵ هجري لمریزکې د وردګ ولایت چک ولسوالۍ د لوړ خلیلي کلي کې په یوه دینداره کورنۍ کې نړۍ ته سترګې پرانیستې، لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې په ضیاء المدارس دیني مدرسې او شهید احدي منځنۍ ښوونځي کې تر سره کړې او په ۱۳۷٤ کال کې یې د یادې سیمې له عمرفاروق لیسې څخه په ښه درجه فارغ او په ۱۳۷۵ کال کې د کانکور ازموینې له لارې د کابل پوهنتون ژورنالیزم پوهنځي ته لار پیدا کړه ، چې په ۱۳۷۸ کې یې د همدې پوهنځي د مطبوعاتو څانګې د لیسانس سند ترلاسه کړ.
نوموړي په باختر اطلاعاتي آژانس او په (افغانستان بانک)کې هم د کم وخت له پاره دنده ترسره کړې او په ۱۳۸۵ کال کې د ځانګړي شوق او علاقې له مخې د خوست پوهنتون، چې وروسته په (شیخ زاید) ونومول شو د ښوونې او روزنې پوهنځي د ژورنالیزم څانګې د کادري غړي په صفت مقرر شو، د دندې په اوږدو کې یې د پوهنځي اړوند بېلابېل مسوولیتونه هم ترسره کړې دي، د فاکولتې مرستیال، د علمي شورا منشي او د پوهنځي له خوا نور ورسپارل شوي مسوولیتونه یې هم په ښه شان تر سره کړې دي. دا مهال د ژورنالیزم څانګې د آمرپه صفت دنده ترسره کوي. استاد صدیق په ۱۳۹۸ کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي پښتو څانګې د ماسترۍ سند هم ترلاسه کړ، استاد د دندې په اوږدو کې په ګڼ شمېر کورنیو او بهرنیو علمي سمینارونو او وروکشاپونو کې ګډون کړی دی.



## پوهندوی نقیب الله عطیش

پوهندوی نقیب الله عطیش د اسدالله زوی چې په ۱۳٦۱ هـ ش کال دلوګر ولایت د برکي برک ولسوالۍ د بابړو په کلي کې یې دې نړۍ ته سترګې پرانستلي دي. لومړنۍ زده کړې یې په خپل کلي کې، منځینۍ او ثانوي زده کړې یې د پښتونخوا په پېښور کې د حضرت قیس بن سعد په عالي لېسه کې ترسره کړي دي او په ۱۳۸۱ کال د یادې لیسې له ۱۲ ټولګي فارغ شوی دی، تر فراغت وروسته د کانکور ازموینې له لارې په ۱۳۸۲ کال کې د خوست پوهنتون د ژورنالیزم پوهنځي ته بریالی شو او د اړوندې پوهنځي څخه په ۱۳۸۵کال کې په لومړۍ درجه فارغ شو، تر فراغت وروسته په ۱۳۸٦ کال کې د اړوندې پوهنځي په علمي کادر کې شامل شو، چې په دې علمي بهیر کې یې د هېواد دننه او بهر په ګڼ شمېر ورکشاپونو او سمینارونو کې ګډون کړی دی په ۱٤۰۱ کال د کابل د ښوونې او روزنې پوهنځی د پښتو ادبیاتو په برخه کې د ماسترۍ سند ترلاسه کړ.



## اسمعیل عاطف

محترم اسمعیل عاطف د متک زوی، چې په ۱۳٦٥ ه ش کال کې د کوزې پښتونخوا په هنګو سیمه کې دې فانې نړۍ ته سترګې وغړولې.
لومړنۍ دیني زده کړې یې د کلي په مسجد کې سرته رسولې دي او عصري زده کړې یې د هنګو په ابتدائیه ښوونځي کې تر سره کړې دي.
ثانوي زده کړې یې د خوست ولایت، یعقوبیو عالي لېسه کې په ۱۳۸٥ ه ش کال کې پای ته رسولې دي.
په ۱۳۸٦ ه ش کال کې د شیخ زاید پوهنتون په ژورنالېزم پوهنځي کې شامل او په ۱۳۸۹ ه ش کال کې په کادر کې فارغ شوی دی.
په ۱۳۹۳ ه ش کال کې علمي کادر ته شامل شوی دی او تر اوسه په دغه سپېڅلې دنده کې د پوهنیار استاد په رتبه کې خپل دندې ته دوام ورکوي.
په ۱٤۰۰ ه ش کال کې د کابل ښوونې او روزنې پوهنتون د مسلکي تعلیماتو پوهنځي په رهبري او مدیریت څانګه کې د ماسترۍ زده کړو ته شامل شو او په ۱٤۰۲ ه ش کال کې ترې فارغ شوی دی.

# د څانګې کریکولم (په سیاسي ګرایش)

| ژورنالېزم څانګه | | | | |
|---|---|---|---|---|
| د هغو مضامینو لیست، چې د ژورنالیزم څانګې په اتو سمسترونو کې تدریسېږي. | | | | |
| لومړی ټولګی/ عمومي<br>لومړی سمستر | | | | |
| شمېره | مضمون | ټولګی | د مضمون کوډ | د مضمون څرنګوالی |
| ۱ | انګیسی | SZUJ&JR1M | JcGe1s01 | اساسي |
| ۲ | افغانستان معاصر تاریخ | SZUJ&JR1M | JcGe1s02 | پوهنتون شمول |
| ۳ | رسنیزساینس(د رادیو او تلویزیون تخنیک) | SZUJ&JR1M | JcGe1s03 | اساسي |
| ۴ | (صرف)1 دري | SZUJ&JR1M | JcG1s04 | اساسي |
| ۵ | (صرف)1پښتو | SZUJ&JR1M | JcG1s05 | اساسي |
| ۶ | اسلامي ثقافت | SZUJ&JR1M | JcG1s06 | پوهنتون شموله |
| ۷ | کمپیوټر | SZUJ&JR1M | JcG1s07 | اساسي |
| ۸ | د اړیکو اساسات | SZUJ&JR1M | JcG1s08 | اختصاصي |
| ۹ | ریاضي(شمېرې او احصایه) | SZUJ&JR1M | JcG1s0٩ | اساسي |

| لومړی ټولګی/ عمومي<br>دوهم سمستر | | | | |
|---|---|---|---|---|
| شمېره | مضمون | ټولګی | د مضمون کوډ | د مضمون څرنګوالی |
| ۱ | 2انګلیسي | SZUJ&JR1M | JcGe1f10 | اساسي |
| ۲ | 2دري | SZUJ&JR1M | JcGe1f11 | اساسي |
| ۳ | پښتو ۲ | SZUJ&JR1M | JcGe1f12 | اساسي |
| ۴ | اسلامي ثقافت۲ | SZUJ&JR1M | JcGe1f13 | پوهنتون شموله |
| ۵ | د اقتصاد اساسات | SZUJ&JR1M | JcGe1f14 | اساسي |
| ٦ | د افغانستان د ژورنالیزم تاریخ | SZUJ&JR1M | JcGe1f15 | اختصاصي |
| ۷ | د ژورنالیزم اساسات | SZUJ&JR1M | JcGe1f16 | اختصاصي |
| ۸ | د ټولنپوهنې اساسات | SZUJ&JR1M | JcGe1f17 | اساسي |
| ۹ | رسنیز ساینس | SZUJ&JR1M | JcGe1f18 | اساسي |

| دوهم ټولګی/ عمومي<br>لومړی سمستر | | | | |
|---|---|---|---|---|
| شمېره | مضمون | ټولګی | د مضمون کوډ | د مضمون څرنګوالی |
| ۱ | په وېب او مطبوعاتو کې خبرلیکنه(نظري او عملي) | SZUJ&JR2M | J cGe2s19 | اختصاصي |
| ۲ | فوټو ژورنالیزم( نظري او عملي) | SZUJ&JR2M | J cGe2s20 | اختصاصي |
| ۳ | انګلیسي ۳ | SZUJ&JR2M | J cGe2s21 | اساسي |
| ۴ | اسلامي ثقافت۳ | SZUJ&JR2M | J cGe2s22 | پوهنتون شموله |
| ۵ | مبادي حقوق | SZUJ&JR2M | J cGe2s23 | اساسي |
| ٦ | کمپیوټر(آډوب ایډیشن، کول ایډیټ) | SZUJ&JR2M | J cGe2s24 | اساسي |
| ۷ | د نړۍ د رسنیو تاریخ | SZUJ&JR2M | J cGe2s25 | اختصاصي |
| ۸ | محیط زیست( چاپېریال) | SZUJ&JR2M | J cGe2s26 | پوهنتون شموله |
| 9 | دري | SZUJ&JR2M | J cGe2s27 | اساسي |

| دوهم ټولګی/ عمومي<br>دوهم سمستر | | | | |
|---|---|---|---|---|
| شمېره | مضمون | ټولګی | د مضمون کوډ | د مضمون څرنګوالی |
| ۱ | رسنۍ او ټولنه | SZUJ&JR2M | JcG2f28 | اختصاصي |
| ۲ | په راډيو او تلويزيون کې خبرليکه | SZUJ&JR2M | JcG2f29 | اختصاصي |
| ۳ | نوې تکنالوژی( رسنيزه تکنالوژي) | SZUJ&JR2M | JcG2f30 | اختصاصي |
| ۴ | انګليسي۴ | SZUJ&JR2M | JcG2f31 | اساسي |
| ۵ | اسلامي ثقافت۴ | SZUJ&JR2M | JcG2f32 | پوهنتو شموله |
| ٦ | ايډيټينګ او د خبرونو مديريت | SZUJ&JR2M | JcG2f33 | اختصاصي |
| ۷ | په مطبوعاتو کې ريوټ ليکنه( نظري او عملي) | SZUJ&JR2M | JcG2f34 | اختصاصي |
| ۸ | پښتو۳ | SZUJ&JR2M | JcG2f35 | اساسی |

| دريم ټولګی<br>لومړی سمستر | | | | |
|---|---|---|---|---|
| شمېره | مضمون | ټولګی | د مضمون کوډ | د مضمون څرنګوالی |
| ۱ | د راډيويي خپرونو توليد( نظري او عملي) | SZUJ&JR3M | JcJ03s36 | اختصاصي |
| ۲ | اسلامی ثقافت۵ | SZUJ&JR3M | JcJ03s37 | پوهنتون شموله |
| ۳ | رسنيزحقوق او اخلاق | SZUJ&JR3M | JcJ03s38 | اختصاصي |
| ۴ | د چاﭘی رسنيو تهيه اوچاپ(نظري او عملي) | SZUJ&JR3M | JcJ03s39 | اختصاصي |
| ۵ | د تجارتي تبليغاتو اساسات | SZUJ&JR3M | JcJ03s40 | اختصاصي |
| ٦ | تحليلي ژانرونه | SZUJ&JR3M | JcJ03s41 | اختصاصي |

| دريم ټولګی<br>دوهم سمستر | | | | |
|---|---|---|---|---|
| شمېره | مضمون | ټولګی | د مضمون کوډ | د مضمون څرنګوالی |
| ۱ | تلويزيوني ريوټ ليکنه( نظري او عملي) | SZUJ&JR3M | JcJ03f42 | اختصاصي |
| ۲ | اسلامي ثقافت٦ | SZUJ&JR3M | JcJ03f43 | پوهنتون شمول |
| ۳ | آنلاين ژورناليزم( نظري او عملي) | SZUJ&JR3M | JcJ03f44 | اختصاصي |
| ۴ | په ټولنيزو اړيکو کې د تحقيق اصول | SZUJ&JR3M | JcJ03f45 | اساسي |
| ۵ | تحقيقي ژورناليزم (نظري اوعملي) | SZUJ&JR3M | JcJ03f46 | اختصاصي |
| ٦ | د راډيو تلويزيون يو اختياري مضمون | SZUJ&JR3M | JcJ03f47 | اختياري |
| ۷ | د ټلويزيوني خپرونې توليد | SZUJ&JR3M | JcJ03f48 | اختصاصي |
| ۸ | اډوب پرېمېير اوفاينل کټ)(کمپيوټر۳ | SZUJ&JR3M | JcJ03f49 | اساسي |

| خلورم ټولگی<br>لومړی سمستر | | | | |
|---|---|---|---|---|
| شمېره | مضمون | ټولگی | د مضمون کوډ | د مضمون څرنگوالی |
| ۱ | مونوگراف لیکنه | SZUJ&JR4M | JcJp4s50 | پوهنتون شموله |
| ۲ | تلویزیوني مستند( نظري او عملي) | SZUJ&JR4M | JcJp4s51 | اختصاصي |
| ۳ | اسلامي ثقافت ۷ | SZUJ&JR4M | JcJp4s52 | پوهنتون شموله |
| ۴ | د بحران او پرمختیا رپوټ لیکنه(نظري اوعملي) | SZUJ&JR4M | JcJp4s53 | اختصاصي |
| ۵ | د سیاست علم اساسات | SZUJ&JR4M | JcJp4s54 | اساسي |
| ٦ | عمومي اساسي حقوق | SZUJ&JR4M | JcJp4s55 | اساسی(گرایشي) |
| ۷ | سیاسي رپوټ لیکنه | SZUJ&JR4M | JcJp4s56 | اختصاصي |
| ۸ | سیاسي جغرافیه | SZUJ&JR4M | JcJp4s57 | اساسی (گرایشي) |

| خلورم ټولگی<br>دوهم سمستر | | | | |
|---|---|---|---|---|
| شمېره | مضمون | ټولگی | د مضمون کوډ | د مضمون څرنگوالی |
| ۱ | د رسنیو مدیریت | SZUJ&JR4M | JcJp4f58 | اختصاصي |
| ۲ | مونوگراف(عملي کار) | SZUJ&JR4M | JcJp4f59 | پوهنتنون شموله |
| ۳ | اسلامي ثقافت ۸ | SZUJ&JR4M | JcJp4f60 | پوهنتنون شموله |
| ۴ | بین المللي / نړی والې اړیکې | SZUJ&JR4M | JcJp4f61 | اساسي(گرایشي) |
| ۵ | د نړۍ سیاسی مسایل | SZUJ&JR4M | JcJp4f62 | اساسي(گرایشي) |
| ٦ | د افغانستان سیاسي نظام | SZUJ&JR4M | JcJp4f63 | اساسي(گرایشي) |
| ۷ | یو اختیاري مضمون | SZUJ&JR4M | JcJp4f64 | اختیاري |

**د هر سمستر او ټولې تحصیلي دورې د کرېډېټونو شمېر**

| گڼه | تحصیلي کال | سمستر | د کرېډېټونو شمېر | د درسي ساعت وخت |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | لومړی کال | لومړی سمستر | ۱۷ | د څانگې اړوند هر مضمون د ټاکلو کرېډېټونو له شمېر سم په اونۍ کې تدریس کېږي او د هر درسي ساعت وخت ۵۰ دقیقې وي. |
| | | دویم سمستر | ۱۸ | |
| ۲ | دویم کال | درېیم سمستر | ۲۰ | |
| | | څلورم سمستر | ۲۰ | |
| ۳ | درېیم کال | پنځم سمستر | ۱۸ | |
| | | شپږم سمستر | ۱۸ | |
| ۴ | څلورم کال | اووم سمستر | ۱۹ | |
| | | آتم سمستر | ۱۸ | |
| ۵ | د بشپړې څلور کلنې تحصیلي دورې د کرېډېټونو ټولیز شمېر | اته سمستره | ۱۴۸ کرېډېټه | |